# د خدايي خدمتګار عبدالطيف خان ګنډه پوري د ژوند حالات

رحمت شاه قريشي

يو غيرتمند خودار او د لوړې حوصلې سړے ښاغلے عبدالطيف زلمے خدايي خدمتګار په پينځمه نېټه په کال نولس سوه پينځهٔ پنځوس **۱۹۵۵** کښې د ښاغلي عبدالرحيم خدايي خدمتګار په کور کلاچي ښار ضلع ډېره اسماعيل خان کښې پېدا شوے ؤ.

د دهٔ پلار ښاغلے عبدالستار صاحب په محکمه تعليم کښې فزيکل انسټرکټر ؤ او د علاقې دپاره د دوي خدمت د چا نه پټ نهٔ دے، په خپله ډېر اخلاقي او خوش طبع سړے ؤ، زلمي چې کله لسم امتحان پاس کړو نو محکمهٔ تعليم کښې استاد شو خو ده کښې د پلار نيکه نه د سياسي خدمت جذبه ډېره زياته وه، د زلمي نيکه عبدالرحيم خان خدايي خدمتګار په نولس سوه شلم ۱۹۲۰ء کښې کانګرس پارټي يعنې خدايي خدمتګار تحريک کښې ګډون وکړو. خان عبدالغفار خان به اکثر عبدالرحيم حجرې ته کلاچي ته راتلو او سياسي طور به يې خلق ويښول.

د عبدالرحيم خان په مرګ خان عبدالولي خان د فاتحه خوانۍ دپاره کلاچي ته راغلے ؤ. عبدالطيف زلمے په جنوري نولس سوه شپږ اتيا **۱۹۸۶**ء کښې وادهٔ وکړو، په دې وادهٔ کښې خان عبدالولي خان بابا، افضل خان لالا، عبدالخالق خان، لطيف خان اپريدي، غلام احمد بلور شرکت کړے ؤ، د دې وادهٔ نه پس زلمے بې اولاده ؤ خو د محلې ټول بچي يې خپل بچي ګڼل. زلمے د لمانځهٔ پابند سړے ؤ او همېشه به يې چې کله قرآن شريف ختم کړو نو خپلو بزرګانو ته به يې ثواب وربخښلو، د رمضان په مياشت کښې به يې لس دولس وارې قرآن شريف ختم کوو. د دهٔ په قرآن پاک کښې به يو کاغذ پروت ؤ چې په هغه به د دهٔ دنيکهٔ عبدالرحيم او د دهٔ دپلار عبدالستار خان، خدايي خدمتګار عبدالغفارخان، خان عبدالولي خان بابا، عبدالخالق خان، اجمل



ختک صیب نمونه لیکلي وو، دا د هغو ټولو ته د قرآن پاک ثواب بخښلو په سیاسي توګه یې له عوامي نېشنل پارټۍ سره تعلق لرلو او د خدايي خدمتګار په طور د دوي خدمات ډېر زيات دي. د بوټو په حکومت نولس سوه پينځه اويايم **۱۹۷۵**ء کښې کلاچي ښار کښې خان عبدالولي خان بابا جلسه وکړه، په هغه کښې د عبداللطيف خان نيکهٔ عبدالرحيم خان او د دهٔ اوښے حاجي حسن خان او نور ډېر کارکوونکي ګرفتار شول، په دوه زره پينځم **۲۰۰۵**ء کښې اسفنديار ، افراسياب ختک، بشير احمد بلور،ميا افتخار حسين، عمران خان اپريدے، لطيف خان زلمي په دعوت کلاچي ته راغلي وو او جلسه يې هم کړې وه، لطيف زلمي د پارټۍ په لېول هر سړے ورور ګڼلے او بغېر د څهٔ لالچ به يې د هغوي خدمت کولو، کهٔ به چا زلمي ته څهٔ ذاتي بد ووئيل خو غصه به يې نهٔ کوله خو په پارټۍ باندې به يې تنقيد نهٔ برداشت کولو او په دې به ډېره غصه ورتله، چې په کومه ورځ دزلمي جنازه وه، په دغې ورځې د پارټۍ مشر حبيب الله کنډي دعوت پروګرام و خو افسوس چې حبيب الله خان کنډي د دعوت په ځائے د جنازې کښې شرکت وکړو، زلمي د باچاخان کورنۍ يو پتنګ ؤ، چې کله به شاهي باغ يا ولي باغ ته تلو نو څو څو ورځې به هلته پاتې کېدو، ولي خان بابا به دهٔ سره په ډېر وياړ ملاوېدو، دغه رنګه له اجمل ختک سره ډېر برکت و، اجمل ختک به په خپله لطيف زلمي ته وئيل: لطيف خان ستا ده چې کله دې هم زړهٔ غواړي نو راځه. دغه رنګه نولس سوه اووه اويايم **۱۹۷۷**ء کښې د ګرمۍ روژې وې، لطيف خان به سوات ته تلو او افضل خان لالا سره به يې روژه تېروله، زلمي له بلور خاندان سره ښه رابطه وه او بلور هاؤس همېشه خپل کور غوندې ګڼلو، زلمي د خان عبدالغفار خان د بيمارۍ په ورځو کښې ډېر خدمت وکړو او چې کله خان عبدالغفار خان بابا مړ شو نو د جنازې سره د جلال اباد ته لاړو، چې کله چاؤدنه وشوه نو زلمي د چاؤدنې سره ډېر نزدې ؤ، زلمي د پارټۍ مشرانو په مرګ اکثر ژړېدو او دغه وجه وه چې پارټۍ به همېشه د ده قدر کولو، د علاقې په توګه ټيچر ايسوسي ايشن او ملګرو استادانو صدر هم پاتې شوے ؤ او د استادانو د مسئلو حل دپاره يې ډېرې هلې ځلې کړې دي، تر دغسې پورې چې محکمهٔ تعليم D.C.O افس وغيره کښې د دهٔ پېژندګلو وه، ملګري استادان به اکثر کلاچي ته راتلل او دهٔ سره به پاتې کېدل. زلمي کله هم استادانو



سره سخته خبره نۀ وه کړې، اکثر به يې G.P فنډ ايډوانس پېسې استادانو ته نقدې ورکولې او بيا به يې وروستو بل جوړ کړو، پېسې به يې راويستې په دفترو کښې د کلرکانو کارونه په هم دۀ کول او اخر لطيف زلمے په نهم ستمبر دوه زره يولس ۲۰۱۱ء د جمعې په ورځ ناګهانه د زړۀ حرکت د بندېدو په وجه ډي آيي خان هسپتال کښې داخل شو خو خدائے ته د دۀ نور ژوند منظور نۀ ؤ، د ماښام په وخت د دې دنيا نه رخصت شو. (انا لله و انا اليه راجعون)

د دۀ جنازه د خالي په ورځ په لسم ستمبر دوه زره يولسم کال کښې کاکړ قبرستان کلاچي کښې وشوه، د دۀ پلار مرحوم عبدالستار خان غوندې د دۀ په جنازه کښې هم په ډېر تعداد کښې خلقو شرکت وکړو، چې په هغې کښې سردار اسرار الله خان ايم پي اې حلقه ۲۷ کلاچي، حبيب الله خان کنډي، داور خان کنډي مشهور وکيل شهاب الدين ايډوکيټ، ضلعي صدر اې اين پي ضلع ډېره اسماعيل خان او د ټانک ډېرو سياسي خلقو په ډېر تعداد کښې شرکت وکړو. مرحوم لطيف خان دومره تعلق لرلو، چې څوک هم د دۀ د مرګ نه خبرېږي کلاچي ته د دۀ د فاتحه خوانۍ دپاره راځي او نن نه څو مياشتې پوره کېږي خو بيا هم د تعزيت ته د راتلونکو خلقو سلسله روانه ده. د لوئے الله نه دعا ده چې مرحوم خدايي خدمتګار لطيف خان زلمے دې خدائے وبخښي او جنت الفردوس کښې دې لوئے مقام ورکړي. امين ثم امين

(نوټ) د زلمي د ژوند د معلوماتو راکولو باندې د هغۀ د ورور عبدالحميد خان شکريه ادا کوم).

## تعزيت

هغه ورځ په سخاکوټ کښې د مرحوم نېک عمل خان چاچي او د شفيع الله خان نيا بي بي په حق ورسېده.

انا لله و انا اليه راجعون.

د پښتون اداره په دې دروند غم کښې د غمژنې کورنۍ سره برابره شريکه ده، زمونږ د زړۀ د تل نه د لوئے خدائے په حضورت کښې دعا ده چې خدائے پاک هغوي ته په جنت الفردوس کښې مقام ورکړي او پسمانده ګانو ته د زړۀ صبر.

آمين

## غمرازي

د پښتو ژبې نوموړے شاعر او مصنف لايق شاه درپه خېل په حق ورسېدو.

انا لله و انا اليه راجعون.

لايق شاه درپه خېل د "مشرق" د کالم نګار سميع الله داوړ والد محترم ؤ. د هغۀ په جنازه کښې ډېرو شاعرانو او ليکوالانو شرکت وکړو، پښتون اداره په دې دروند غم کښې د هغوي سره شريکه ده، مونږ د خالق ذوالجلال په دربار کښې د هغوي د بخښنې دپاره لاس په دعا يو، خدائے پاک دې هغوي ته په جنت الفردوس کښې مقام ورکړي او پسمانده ګانو ته د زړۀ صبر. امين.